


#لنډه کیسه: د موټر غل.

#لیکوال: خواجه زی.

#اول برخه.

Ketabton.com

________________

بِسـمِ أآأللّهِ أآألَـرِحـمّنْ أآألَـرِحـيَم

ملګرو دا زما لومړۍ لنډه کیسه ده البته غواړم لنډه یې ولیکم او نغواړم ناول ورڅخه جوړ کړم البته ډېر هم لنډه نده او یو دوه درې برخو کې راټولېږې نو په دې امید چې خوښ مو شې...

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور کاله مخکې زما د کاکا موټر غلو و تختته وېې هغه هم د ده له کور څخه،او کاکا مې ویل چې دا کار ضرور د خپلوانو دي! ځکه دا یو عام ذهنیت او فکر دې کله چې یو شئ د چا له کور غلا شې نو اول ملامت خپل او همسایه دي! نو زما کاکا هم همدغه خبره نېولې وه او ویل یې چې دا کار د کوم آشنا دې او زه یې ضرور پېدا کوم. خلاصه د خبري دومره وګرځېدو چې بېحد خو هېڅ دلیل او ثبوت یې پېدا نشو کړې چې اخیر موټر چا غلا کړې؟

یوه ورځ د کاکا یو ملګري مې کاکا ته د یو تعویذ لیکونکي آدرس ورکړو او ورته ویلې وه چې یو څو روپي دغه تعویذ لیکونکې ته ورکړه نو هغه به درته غل معلوم کړي! کله چې کاکا مې دا خبره زما پلار ته وکړل نو پلار مې ډېر سخت غوسه شو او د دي کار څخه یې منع کړو خو کاکا مې کلک ملا تړلې وه ترڅو خپل د موټر غل پېدا کړې نو بغیر لدې چې زما د پلار خبرو ته غوږ ونیسې هغه تعویذ لیکونکي ته لاړو.

اصل کې دا کوم ملا نه وو بلکې یو کوډګر وو، دغه کوډګر یا هم جادوګر زما د کاکا څخه سم د پولیسانو پشان اظهارات اخیستې وه او کله چې پوي شوې وو چې زما کاکا خپل پر خپلوانو شکې دې نو ورته ویلې وه چې یو ماشوم ما ته راوړه داسې ماشوم چې ستاسو زیاتر خپلوان وپیژني! او زما د بده بخت هغه وخت زما عمر د ۱۰ کالو وو او زه دومره شوخ او د پلار خبره نا اهله وم چې دا ټول کلي زه پېژندم! او مقابل کې دا ټول کلي خلک هم ما پېژندل.

خلاصه چې کاکا مې راغلو زما پسې پلار مې کور کې نه وو او زما کاکا بغېر لدې چې اصل موضوع زما مور ته ووایې زه یې لځان سره بېرون ویورم او هلته یې ماته ټول خبره وکړه او راته ویې ویل: چې ۱۰۰ روپي درکوم که زما سره هغه تعویذ لیکونکې ته لاړشې او هو دا خبره به بیا خپل مور او پلار ته هم نکوې.

اول کې مې هم وویل کنه زه ډېر شوخ ماشوم وم نو دا خبری هم زما د سات تېره ولو لپاره ډېر ښه موضوع وه او له بلخوا مفته پیسې هم راکول! هغه وخت ۱۰۰ افغانې داسې وه ماته لک ۱۰۰ زر ډالر، نو بغیر له کوم چون او چرا په ډېر خوشحالی مې دا خبره د کاکا سره ومنل او د هغه تعویذ لیکونکي خوا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library
روان شو کله چې هلته لاړو نو هغه سړی زما په سر یوه سپینه توته واچول او زما دواړه لاسونه یې خپل په یوه لاس کې ونېول او بل لاس یې زما په سر کیخود او د یوشئ پر ویلو شو او هغه به یې پر ما چوف کول..

هغه به لا دوه چوف نه وکړې چې داسې احساس مې وکړو چې یو چا شاته کش کړم او ما د زیات وېرې څخه خپل سترګي خلاصې کړې، کله چې سترګې مې خلاصې کړې نو زه په هغه کوته کې نه وم! بلکې د کاکا د کور په حویلې کې وم! شاوخوا مې په حېرت وکتل توره شپه وه د ډېر وېرې څخه مې ژبه بنده راغلې وه غوښتل مې د کاکا د کور خوا ته منډه کړم خو داسې وو لکه چې پښې مې په ځمکې ګنډلې وې، زه په همدې کش مکش کې لخان سره وم چې د د کاکا د کور په دیوال دوه کسان راواوړېدل او د کاکا د موټر خوا ته رانږدې شول د هغوې په رانږدې کېدلو ما د هغوي څېرې ولېدې!

او ومې پېژندل یو حکیم الله وو زما د کاکا صمیمې ملګرې! او بل هم د کاکا د کوڅې د سر دوکاندار ظهور وو، ظهور موټر چالاند کړو او حکیم الله ورته دروازه خلاصه کړه او موټر یې له کور بهر کړو! او زه ورته هک حیران ولاړ وم چې ناڅاپه پر مخ مې د اوبو د څاڅکو پر توېدو په وحشت سره سترګي خلاصې کړې، او دا ځل زه د تعویذ لیکونکي کور کې خپل د کاکا په غېږه کې وم او هغه په وېرې سره ما ته راکتل تعویذ لیکونکې زه له کاکا څخه جلا کړم او پداسې حال کې چې زما سترګو ته ځېر و وویل:

— ایا د موټر غل دې ولېد؟
د تعویذ لیکونکې په خبره خپل د کاکا خوا ته مې وکتل هغه په هیجان او وېرې سره غبرګې سترګې زما خولې ته نیولې وه، کله چې ما د تعویذ لیکونکې په خبره خپل سر د "هو" پشان و ښوراوه نو کاکا مې په بېحد هیجان او ورخطاې زما خوا ته لږ نور هم رانږدې شو تعویذ لیکونکې بیا وویل: څوک وو؟ آیا و دې پېژندې؟
د هغه په خبره ما یو ځل بیا خپل سر د "هو" پشان وښوراوه چې...

دا ځل کاکا مې رامخکې شو او زما لاس یې خپل لاسونو کې ونېوه او ویې پوښتل: څوک وو؟
څو ثاني خاموش وم خو وروسته مې په کراره ورته ټول د سترګو لېدلې حال

(c) ketabton.com: The Digital Library
بیان کړو کاکا مې باور نه راتلو ویل یې ته غلط شوي یې.

کاکا- نه دا امکان نلري... نه .. نه ... دا بیخې امکان نلري حکیم الله او داسې کار؟ نه...

خو ما هېڅ نه ویل د څو دقیقو وروسته چې کاکا کامل ډاډمن شو او باور یې راغلو چې دا کار ورسره د هغه صمیمي ملګري کړې نو اوس یې وار د قسمونو او ګواښونو وو! هغه تعویذ لیکونکي ته یې یو څو روپي لاس کې ورکړل او زه یې د ځان پسی کش کړم تولهٔ لار یې یوه خبره لا ونکړل او بېحد خفه معلومېد، حق یې درلود دا ملګري زما کاکا ته د ورور پشان وو. کله چې زموږ د کور کوڅي ته ورسېدو کاکا مې راته سل روپي په جیب کې کېخودل او د دوکاندار څخه یې یو جوس هم راته واخیست او د دې خبرې پر ویلو چې چا ته به هېڅ نه وایې زما څخه لرې شو.

زه هم په لړزانه قدمونو د کور خوا ته روان شوم کله چې ورسېدم بغیر لدې چې د مور د پوښتنو جواب ورکړم چې ویل یې: کاکا دې څه کار درسره درلود؟ او چیرته تللې واست؟ خپل د کوټې خوا ته لاړم او خپل پر ځای پریوتم....
د پریوتلو سره سم خوب وړې وم نه پوهېږم سومره وخت وېده شوې وم چې د پلار په غږ مې راویښ شوم.

پلار- وه هلک پاسه دا څه وخت خوب دی؟ پاسه هیندوانه مې راوړې راځه په موټر کې لیاده ووت هغه راوړه کور ته شابه.
په پټو سترګو لځایه پاسېدم د بدن هر هډوکي مې جلا، جلا درد کاوه او دومره ستړې وم لکه سل کیلو وزن چې زما پر اوږو بار ویې، پلار راته د موټر کیلی نیولې وه په همغه خراب حال مې ورڅخه کیلي واخیست او د باندې حویلې ته ووتم هوا تیاره وه د ماښام مونځ مخ پر قضا کېدو وو، د موټر شاته ډالۍ مې خلاصه کړه هینداونی ته مې لاس اوږد کړو تر څو راوخلم چې یو یخ شئ مې خپل په لاس احساس کړو؟ کله چې و مې کتل نو یو لاس وو؟ هغه هم بیحد سپین یوازی د لاس چمبه وه او نور لاس او کس نه راته ښکاره کېده..

د هغه لاس په لېدو بې اختیار مې له خولې چغه ووتل او غوښتل مې د کور

(c) ketabton.com: The Digital Library
خوا ته منډه کړم خو حرکت مې نشو کولې فکر مې کاوه یو چا د پښو څخه
نیولې یم نور دومره په بدن کې مې توان نه وو چې لاندې وګورم ترڅو پوی
شم اخیر زه چا یا څه شئ له پښو نیولې یم؟ او همدلته ځاې پر ځاې د زیات
وېرې او وحشت څخه بې هوښ شوې وم...

د خبرو په بنګ بنګ لږ لږ په هوښ راغلم چې خپل د پلار غږ مې واورېده چې
زما مور ته یې په غوسه ویل: ولې دې پرېخود چې احمد( زما کاکا) دې لځان
سره بوځې؟
مور مې په وېرېدلې غږ وویل: زه نو د کومه خوا خبره وم چې هغه غواړې دې
لځان سره ویسې جادوګر ته؟
او بیا په ژړا او ساندو خپل خبرو ته دوام ورکړو او ویې ویل: اې مور دې ړنده
شې چې دا حال مې خپل د زړه د ټوټې لېدلې نه وایې.

پلار- اخ زما په ګیر به رانشې دا بیعقل خپل ځان خو یې په غضب ګرفتار کړو
هغه رسواې بس نه وه چې تللې و د حکیم الله د کور مخکې او د هغه بیچاره
ګریوان یې نیولې وو چې تا زما موټر غلا کړې، او خبره یې تر حوزې او مرګ
کش کړه. هغه بس نه وو چې د دې هلک په سر یې هم دا بلا راوړه؟!

هوو د پلار خبره مې حق وه زما په سر سم بلا را نازل شوې وه، د هغه ورځ
وروسته مې د خیر ورځ ونه لېده نه مې د شپې د هغوې د لاسه خوب درلود او
نه مې هم د ورځې د هغوې د پعذابه ولو او مضریت څخه امان. وخت ناوخت
به په سل رنګ او څهرې به راته ظاهر شول او زه به یې تر مرګ وېره ولم، پلار
مې ټول مولیان او قاریان راباندې وغوښتل خو زما حال ښه نشو او ورځ تر
بلې مخ په خراب کېدو وو نور راڅخه هغه د پخوا شیطنت او مضریت پاتې
وو، د ورځې به مې د مور لمنه نیولې وه د وېرې څخه او کله چې به ماښام
خپله لمن ښوره کړل نو هغه وخت د مور څنګ امن نه وو او باید یو ډاډمن کلا
او ځاې مې د پټ کېدو لپاره پېدا کړې وایې..

او هغه وو زما د پلار غېرِه، زما پلار د نورو پشان زیات ماشوم دوست نه وو
چې مثال موږ سره لوبې وکړې، کیسې وکړې، زموږ خبرو ته غوږ ونیسې زما
پلار بیحد سخت مزاج انسان وو، د دې خبرو څخه مخکې زما یاد ته نه راځې
چې ما دی د اخترونو بغیر خپل پلار ته نږدې ورغلې اوسیږم او د هغه لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library
مې ښکل کړې وې غیره ورکول خو لرې خبره...

خو دې موضوع دومره زما روحي رواني حالت خراب کړې وو چې د پلار خبرې تروش تندې او هیبت به مې په ځان اخیست او د هغه څنګ کې به ویده کېدلم...
هغه جاوید چې یو وخت ورځخه کوتري لا د ونو په سر امان نه درلود اوس خپل له سایې څخه یې لا وحشت درلود، زما د دې حال په لېدو پلار مې مجبور شو خپل له کار څخه د یو هفتې لپاره رخصت واخلې او هغه مولا چې د پلار ملګرې مې ورته معرفي کړې وو او په خوست ولایت کې وو هلته لاړشو، هلته په تلو څه ناڅه دمه مې راسته شوه او دومره فایده وکړل چې د پلار د کوټې او غیږې څخه خپل کوټې ته بېرته لاړشم، خو هغوي په کامل توګه نه وه تللې او کله ناکله به یې ځان راښکاره کوو، خو کوم تعویذات چې راته هغه مولوي

کړې وه د دې سبب شوې وه چې ما ته رانږدې نشي، او د پخوا پشان مې تر مرګ و نه ډاره ویې..

اوس چې د هغه وختونو څخه څه کم څلور کاله تېرېږی او بیا هم کله ناکله د هغوې حضور زما زړه کې وېره خپره وي، نو خپل په یو کار مې بیحد افسوس راځې او هغه دا چې د سل روپو لپاره ما په خپل ځان داسې عذاب راوړو! خو لځان څخه مې لا زیات غوسه خپل و کاکا ته راځې زه هغه وخت ماشوم وم په ښه او بد نه پوهېدم دې خو پوهیده نو بیا ولې داسې کار زما حق کې وکړو؟

او د هغه څخه لا جالب خبره دا چې هغه ټول لېدلې شیان او خبرې چې هغه تعویذ لیکونکې کړې وه دروغ وه! او هغه موټر زما د کاکا ملګرې نه وو غلا کړې بلکې دا یو رقم چشم بندې وه چې هغه تعویذ لیکونکې وکړه او موږ ته یې چل راکړو..
د دومره وخت وروسته نه چا هغه کیسه یاد ده او نه هم هغه غلا شوې موټر! په دې مینځ کې یوازې نقصان او تاوان ما ولېد او بس....

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا زما لومړی لنډه کیسه وه نو د ویلو وروسته ضرور خپل نظر راته ووایست چی ایا خوښ مو شو او کنه؟ او هو دا هم زما د تلګرام چینل دی دلته زه خپل لیکل شوی او ژباړل شوی ناولونه نشر کوم نو دلته هم په راتګ مو خوشحالیږم.
https://t.me/pashtoonovels0
او دا هم زما شخصی ایډی
@shuhab09

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**